## د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

### د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۹/ ذوالحجة/۱۴۴۶ هـ، ق موافق ۱۶/جوزا /۱۴۰۴هـ، ش**

# د لوی اختر د لمانځه او قربانۍ اړوند احکام او مسائل

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله الذي شرع لعباده التقرب إليه بذبح القربان وقرن النحر له بالصلاة في محكم القرآن وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ذو الفضل والامتنان وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله المصطفى على كل إنسان صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان وسلم تسليمًا ،أما بعد :قال الله سبحانه وتعالى:{ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ فَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ }[الحج: ۳۴]

**ګرانو هيوادوالو او محترمو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره داسې موسمونه او مناسبتونه مقرر کړي دي چې په هغې کې عبادت هم وي ، خوشحالي هم وي او ايثار او قرباني هم وي لکه د لوی اختر ورځ.

لوی اختر چې الله جل جلاله يې هرکال په خپلو بندګانو راګرځوي، داد الله تعالی له لورې په خپلو بندګانو لوی احسان دی او مسلمانان په لوی اخترکې داختر خوشحالي تکرار وي اود اختر خوشحالي لمانځي اود قربانۍ دغوښو په خوراک سره د الله تعالی د نعمتونو شکر اداء کوی.

اخترونه د مسلمانانو ددينې شعائرو له جملې څخه دي او شرعي مناسبتونه دي.

لوي اختر او کوچنی اختر داسلام د سترو ارکانو د سرته رسولو څخه وروسته الله تعالی مشروع ګرځولي دي کړي، چې يو رکن روژه ده او بل رکن حج دی.

په لوی اختر کې دوه مهم او لوی لوی کارونه ترسره کيږي چې يو د لوی اختر لمونځ دی او بله قرباني کول دي چې ددواړو کارونو احکام او مسائل په لاندې ډول دي.

## ۱-د اختر لمونځ

د لوی اختر لمونځ واجب دی.

لوی اختر لمونځ په هر نارینه مسلمان چې عاقل وي، بالغ وي، آزاد وي او مقیم وي واجب دي. الفقه الإسلامي وأدلته (۲ /۵۱۵)

الله تعالی فرمایلي دي: { فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ } [الكوثر: ۲] ؛ پس لمونځ وکړه خاص خپل رب لره او ذبح وکړه(خاص خپل رب لره).

ددې آیت په تفسیر کې راغلي دي چې لمونځ وکړه د اختر او ذبح وکړه (اوښ). په دې مبارک آیت کې امر راغلی دی او مطلق امر لپاره د وجوب وي.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ) [البقرة:۱۸۵]

ترجمه: او ددې لپاره چې تاسو د الله تعالی لویي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی.

ددې آیت په تفسیر کې راغلي دي چې د (وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ ) څخه د اختر لمونځ دی.

بل د وجوب دلیل دادی چې د اختر لمونځ د شعائر الاسلام څخه دی ؛ نو داختر لمونځ ددې لپاره واجب شوی دی چې شعائر الاسلام فوت نشي. بدائع الصنائع (۱ /۲۷۵)

امام سیوطي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې د قتاده او عطاء بن ابی رباح رحمهما الله څخه نقل کړي دي چې ، هغوی وایې چې د (فصل لربک وانحر) څخه مراد د لوی اختر لمونځ او د بُدني ذبح کول مراددي. الدر المنثور (۸ /۶۵۱)

بل داچې د اختر پر لمانځه باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم مواظبت او همیشه والی کړی دی او د مشروعیت څخه وروسته یې هیڅکله نه دی پریښی چې دا هم د وجوب دلیل دی. تبیین الحقائق (۱ /۲۲٤) ، حاشیة الطحطاوي علی المراقي (ص: ۳٤۳)

په صحیح البخاري کې راځي: عَنْ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَالَ:« إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ مِنْ يَوْمِنَا هَذَا أَنْ نُصَلِّيَ ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ فَمَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا». صحیح البخاري (۲ /۳۶۵)

ژباړه: دبراء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې هغه هغه خطبه ویله: بیشکه اول هغه څه چې مونږ ورباندې شروع کوو زمونږ په دې ورځ کې (هغه دادی) چې لمونځ به کوو، بیا به ګرځو او اوښان به ذبح کوو؛ نو چاچې داسې وکړل نو بیشکه هغه زمونږ طریقې ته ورسیده.

### د اختر د لمانځه وخت:

د اختر لمونځ وخت څاښت وخت دی. یعنې چې لمر راوخیژي ، سپین شي او یوه نیزه(دولس لویشت) یا دوه نیزو په اندازه اوچت شي.
که چیرې داختر لمونځ د خپل وخت څخه مخکې وشي ؛ نو دا به نفل لمونځ وي چې په حرام وخت کې ترسره شوی وي.

د لمانځه د وخت دداخلیدو څخه وروسته مستحب داده چې د لوی اختر لمونځ یوه اندازه وختي وشي؛ څکه چې خلک د لمانځه څخه وروسته قرباني کوي او په کوچني اختر کې مستحب داده چې لمونځ یوه اندازه وروسته وشي.

په يو مرسل حديث کې راځي: عن أَبِى الْحُوَيْرِثِ : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَتَبَ إِلَى عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَهُوَ بِنَجْرَانَ :« عَجِّلِ الأَضْحَى وَأَخِّرِ الْفِطْرَ وَذَكِّرِ النَّاسَ ». السنن الكبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (٣ /٢٨٢)، مسند الشافعي (ص: ٧٤)

ژباړه: د ابو الحويرث رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم عمرو بن حزم ته چې کله هغه په نجران کې (والي) ؤ داسې وليکل: د لوی اختر لمونځ په عجله وکړه او د کوچني اختر لمونځ کې تاخير وکړه.الطحطاوي على المراقي (ص: ٣٤٦)

## د اختر په ورځ مستحب کارونه:

د لوی اختر په ورځ لاندې کارونه او اعمال مستحب دي:

١-د اختر په سهار غُسل کول سنت دي؛ ځکه چې نبي عليه السلام به په دواړو اخترونو کې او د عرفې په ورځ غُسل کولو.

٢-داختر په ورځ د مسواک استعمالول سُنت دي.د مسواک استعمالول په هر لمانځه کې مطلوب دي.

٣-خوشبوی لګول سُنت دي ؛ ځکه چې نبي عليه السلام به داختر په ورځ خوشبوی لګوله.

٤-نوی جامې يا پاکې جامل اغوستل مستحب دي .

٥- په اختر کې خوشحالي او خوښي ښکاره کول او ظاهرول مستحب دي.

٦-په اختر کې زيات صدقات ورکول مستحب دي.

٧-عيدګاه ته يا مسجد ته وختي تلل او چابکي کول مستحب دي؛ ترڅو د لومړي صف فضيلت ورڅخه فوت نشي.

٨-عيدګاه يا مسجد ته پياده تلل مستحب دي.

٩-په لاره کې به تکبيرونه ويل سُنت دي او چې کله عيدګاه يا مسجد ته ورسيږي تکبير ويل به پريږدي.

په يو بل روايت کې راځي چې کله لمونځ کول شروع شي ؛ نو تکبيرونه ويل به پريږدي.

١٠-کله چې عيدګاه مسجد ته ځي نو مستحب ده چې په يوه لاره لاړ شي او کورته په بله لار راشي .

١١-مستحب داده چې په عيدګاه کې داختر لمونځ وشي؛ خو که څوک عيدګاه نلري په مسجد کې کوم باک نلري.

په عيدګاه او مسجد کې د اختر له لمانځه څخه مخکې نفل کول نشته . او د جمهورو علماوو په نزد په عيدګاه کې يا مسجد کې د اختر لمانځه څخه وروسته نفل کول مکروه دي.مراقي الفلاح (ص: ٢١٦)،بدائع الصنائع (١ /٢٧٩)

## ٢- د لوی اختر د قربانۍ اړوند احکام او مسائل:

په لوی اختر کې قرباني کول د ابراهيمي سُنت دي او د ابراهيم عليه السلام د قربانيو او د اسماعيل عليه السلام د فداکارۍ يادونه ده.

د الله جل جلاله په لاره کې د خپل ګران زوی قرباني کول د حضرت ابراهيم عليه السلام لپاره يوه الهي ازموينه وه چې په لوی اختر ددغه ازموينې يادونه تازه کيږي.

لوی اختر د الله جل جلاله په وړاندې د مسلمان د عبادت تر ټولو ښکلی مثال دی. لوی اختر د قربانۍ، فداکارۍ، عفوې او بخشش، اخلاص او مینې نمونه ده.

د قربانۍ موخه یواځې دپسونو او څارویو ذبح کول نه ده؛بلکې موخه یې دپاکو افکارو،پاکو زړونو په قربانیو او فداکاریو باندې روزنه او پالنه ده.

الله جل جلاله دابراهیم علیه السلام ازموینه او د اسماعیل علیه السلام فداکاري په لاندې ډول یادوي:

(فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ* فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ* وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ* قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ* إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ* وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ* وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ).[ الصافات:١٠٨]

ترجمه: نو کله چې (اسماعیل علیه السلام) له ده( ابراهیم علیه السلام) سره منډې وهلو ته ورسیده وه یې ویل: ای زما خوږه زویه!

بیشکه زه په خوب کې وینم داسې چې بیشکه زه تا ذبح کوم، نو ته وګوره چې ستا څه رایه ده؟ هغه (اسماعیل علیه السلام) وویل: ای زما پلار جانه! ته هغه کار وکړه چې تاته یې امر کول شي، ژر ده چې که الله وغواړي، ته به ما له صبر کوونکو ومومې، نو کله چې دواړو غاړه کیښودوه او هغه یې(اسماعیل علیه السلام) په اړخ څملاوه او مونږ ده ته آواز وکړ، داسې چې ای ابراهیمه ! یقیناً تا خوب رښتیا کړ، بیشکه مونږ نیکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو، بیشکه دا، یقیناً همدغه ښکاره ازمیښت ؤ او مونږ ده(اسماعیل علیه السلام) ته په ډیرې لویې ذبیحې سره خلاصی ورکړو او مونږ باقي پریښود ده لره(یادونه دده) په وروستنیو خلکو کې.

الله جل جلاله د ابراهیم علیه السلام د قربانۍ سُنت لکه چې فرمایي(وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ) د تل لپاره د مسلمانانو لپاره روښانه لار وګرځوله او دا ابراهیمي سُنت د هغه په نسل کې ژوندي پاتي شول، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي : (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ....) الحج : ٣٤

ترجمه: د هر امت لپاره مونږ د قربانۍ یوه کړنلاره ټاکلی ده؛ ترڅو چې (د هرامت) وګړي په هغو څارویو باندې دالله تعالی نوم یاد کړي چې هغوی ته د روزۍ لپاره ورکړ شوي دي.

امام ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې وایي: الله تعالی مونږ ته ددې خبری یادونه کوي چې د قربانیو ذبح کول او د قربانیو د وینو تویول په ټولو امتونو کې مشروع عمل ؤ.(ابن کثیر)

په دغه ابراهیمي قربانۍ کې اخلاص ډیر مهم دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلاَ دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ)[ الحج: ٣٦-٣٧]

ترجمه: نه دهغو (څارویو) غوښې الله ته رسیږي او نه یې وینې، مګر هغه ته ستاسې تقوی رسیږي، هغه ستاسې لپاره څاروي تابع کړي دي، ترڅو چې تاسې په هغه طریقه چې تاسو ته یې لا ښوونه کړی ده د الله تعالی لویي یاده کړئ. او ای پیغمبره نیکو کارانو ته زیری ورکړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ابراهیمي سُنت عملاً اجرا کړي دي .

په یو حدیث شریف کې راځي: عن أنس رضي الله عنه قال:( ضَحَّى النَّبِي صلى الله عليه وسلم بِكَبْشَينِ أَمْلَحَينِ أَقْرَنَينِ، ذَبَحَهُمَا بِيدِهِ وَسَمَّي وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ على صِفَاحِهِمَا) . متفق علیه

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی؛ هغه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه نر چاغ او ښکرور پسونه قرباني کړل، دواړه يې په خپل لاس حلال کړل، بسم الله او تکبير يې پرې وويل او د ذبحې پر مهال يې خپله پښه د هغو دغاړې پر اړخ کيښوده.

## د قربانۍ کولو حُکم:

قرباني کول په هر آزاد او مقيم مسلمان باندې چې د اختر په ورځ صاحب د نصاب وي واجب ده.

د قربانۍ نصاب هغه د زکات د وجوب نصاب دی چې د اختر په ورځ (۸۷،۴۷۹) گرامه طلا ولري يا (۶۱۲،۳۵) گرامه سپين زر ولري.

د قربانۍ په نصاب باندې دکال تيريدل شرط نه دي. که چيرې څوک د اختر په ورځ د نصاب مالک وي او د حاجت اصلي څخه يې زيات وي ، نو پر هغه قرباني واجب ده .

امام مرغيناني (رحمه الله) فرمايي:( الأضحية واجبة على كل حر مسلم مقيم موسر في يوم الأضحى) بداية المبتدي (ص: ٢١٩)

ترجمه: قرباني په هر آزاد او مقيم مسلمان واجب ده چې غني وي داختر په ورځ.

الله جل جلاله فرمايلي دي: { فصل لربك وانحر } [ الكوثر : ٢] يعني د قربانۍ څاروی ذبح کړه .

په دې مبارک آيت کې امر شوی دی د اضحيې په ذبح کولو باندې او امر تقاضا د وجوب کوي. المبسوط (٦/ ١٧١)

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ، وَلَمْ يُضَحِّ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا» سنن ابن ماجه (٢ /١٠٤٤)

ژباړه: دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې دقربانۍ توان ولري او قرباني يې ونه کړه، زمونږ عيدگاه ته دې نه نږدې کيږي.

محدثين او فقهاء کرام وايي چې داسې وعيد نه راځي ؛ مگر په ترک د واجبو کې راځي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ جُنْدَبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ قَالَ ضَحَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُضْحِيَةً ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا أُنَاسٌ قَدْ ذَبَحُوا ضَحَايَاهُمْ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَآهُمْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَدْ ذَبَحُوا قَبْلَ الصَّلَاةِ فَقَالَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى». صحيح البخاري ت (١٤/ ٢٩)

ژباړه: د جندب بن سفيان بجلي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې مونږ قرباني وکړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځل قربانۍ يوه ورځ؛ (و مو ليدل) چې ځينو خلکو ذبح کړي ؤ خپل مالونه مخکې دلمانځه څخه، کله چې نبي عليه السلام له لمانځه څخه راوگرځيدلو، دوی لره نبي عليه السلام وليدل چې هغوی مالونه حلال کړي ؤ مخکې له لمانځه څخه، بيا نبي عليه السلام وفرمايل: چاچې ذبح کړي وي د لمانځه څخه مخکې ؛ نو د هغې پرځای دې بله ذبح وکړي.

په يو بل روايت کې راځي: (مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيُعِدْ) متفق عليه

په دواړو حديثونو کې دا ډول وعيد د وجوب دليل دی.

امام سرخسي رحمه الله د پورتني حديث په شرح کې وايي: په دې حديث کې دهغه چا په اړه امر راغلی دی چې داختر لمونځ څخه مخکې قرباني وکړي چې داسې کس دې دقربانۍ ذبح اعاده کړي او امر د وجوب لپاره وي. المبسوط (٦ /١٧١)

**دقربانۍ فضيلت:**

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ، إِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ القِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا، وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الأَرْضِ، فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا) سنن الترمذي

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د اختر په ورځ بني آدم داسې عمل نه دی کړی چې هغه دې الله تعالی دقربانۍ دوينې تويولو څخه غوره وي. دقربانۍ څاروی به دآخرت په ورځ دخپلو ښکرونو سره،
دخپلو ويښتانو سره او دخپلو ښنگرو سره راشي(يعنی دقربانۍ حيوان د خپلو ټولو اجزاؤ سره راشي؛ ترڅو دقرباني کوونکي داعمالو تله درنه شي) او بيشکه د وينې تويول دالله تعالی د رضا سبب گرځي مخکې له دې چې وينه په زمکه ولويږي، پس د زړه نه وربانديې خوشحال شئ.
(وعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ ، قَالَ : قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : يَا رَسُولَ اللهِ ، مَا هَذِهِ الأَضَاحِيُّ ؟ قَالَ : سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ قَالُوا : فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : بِكُلِّ شَعَرَةٍ ، حَسَنَةٌ قَالُوا : فَالصُّوفُ ؟ يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ : بِكُلِّ شَعَرَةٍ مِنَ الصُّوفِ ، حَسَنَةٌ). مسند أحمد، سنن ابن ماجة
ترجمه: د زيد ابن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی چې صحابه کرامو د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ای دالله رسوله ! ددې قربانيو زمونږ به دين کې څه خصوصيت دی؟ پيغمبرعليه السلام ورته وويل: قرباني ستاسو دپلار ابراهيم عليه السلام سنت ده. صحابه وو عرض وکړ چې مونږ ته په کې څومره اجر دی؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل: په هر ويښته يوه نيکي ده. بيا يې عرض وکړ چې د گډ د ويښتانو اجر شته؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل: دگډ په هر ويښته يوه نيکي ده.
(عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ وَخَيْرُ الأُضْحِيَةِ الْكَبْشُ الأَقْرَنُ ). سنن أبى داود
ترجمه: عباده ابن صامت رضي الله عنه درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت نقل کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: غوره کفن يمني دوه څادره دي او غوره قرباني ښکرور گډ دی.

وعن أنس رضي الله عنه قال:(ضَحَّى النَّبِي صلى الله عليه وسلم بِكَبْشَينِ أَمْلَحَينِ أَقْرَنَينِ، ذَبَحَهُمَا بِيدِهِ وَسَمَّي وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ على صِفَاحِهِمَا) متفق عليه

ترجمه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم دوه نر چاغ او ښکرور پسونه قرباني کړل، دواړه يې په خپل لاس حلال کړل، بسم الله او تکبير يې پرې وويل او د ذبحې پر مهال يې خپله پښه د هغو دغاړې پر اړخ کيښوده.

**د قربانۍ د وجوب شرطونه:**

د قربانۍ د وجوب شرطونه څلور دي:

١-اسلام. ځکه قربانۍ عبادت دی.

۲-آزادي او حريت.ځکه قرباني کوونکی باید مالک وي، قرباني په غلام واجب نه ده.

۳-نصاب. قرباني په هغه چا واجب ده چې صدقة الفطر وربانديې واجب ده.

۴-اقامت. قرباني په مسافر واجب نه ده.

### د قربانۍ دصحت شرطونه:

۱-دقربانی څاروی به د اوښانو، غویانو، میښو، ګډانو او وزو له جنس څخه وي.

په اوښ ، غوا ، میښه کې د اوو کسانو پوری شریکیدل جواز لري.

۲-په اوښانو کې په هغه اوښ قرباني کيږي چې د خپل عمر پنځه کاله يي پوره کړی وي، په هغه غوا ، غويي او ميښه قرباني کيږي چې دوه کاله عمر يې پوره کړی وي، په هغه وزه او ګډانو(پسونو) باندې قرباني کيږي چې يو کلن وي.

په هغه ګډ باندې قرباني کيږي چې دعمر شپږ مياشتې يي پوره کړی وي او دجسامت له لحاظه داسې ښکاري لکه يو کلن ګډ.

په البحر الرائق کې راځي: وَالْجَذَعُ من الضَّأْنِ ) وَالْجَذَعُ من الضَّأْنِ ما تَمَّتْ له سِتَّةُ أَشْهُرٍ عِنْدَ الْفُقَهَاء. البحر الرائق (٨ /٢٠٢)

ژباړه: او جذعه له ګډانو هغه دي، چې شپږ مياشتې يې پوره شوي وي د فقهاء په نزد باندې.

۳-دقربانی څاروی باید دعیوبو څخه خالي وي.په ړوند څاروي قرباني نه کيږي.

### د قربانۍ وخت:

د قرباني وخت د اختر ورځ د صبح صادق ختل دي؛ مگر د ښارونو خلک به تر هغې قرباني نه کوي ترڅو امام داختر لمونځ وکړي او د باندو خلک کولای شي د اختر د ورځې د صبح صادق له ختلو وروسته قرباني وکړي.كما في الهداية:(ووقت الأضحية يدخل بطلوع الفجر من يوم النحر إلا أنه لا يجوز لأهل الأمصار الذبح حتى يصلي الإمام العيد فأما اهل السواد فيذبحون بعد الفجر) الهداية شرح البداية (٤ /٧٢)

### د قربانۍ څاروي د ذبح کولو اړوند آداب:

۱-د قربانۍ د څاروي قدر کول او عزت کول واجب دي؛ بناءً د قرباني په څاروي پرته له ضرورته سـپريدل مکروه دي؛ ځکه په دې کې د قرباني د څاروي اهانت دی. الاختيار لتعليل المختار (١ /١٨)

۲-د قربانۍ څاروی لوشل او ور څخه او هغه څنبل مکروه دي ؛ ځکه چې شيدي د څاروي جز دی او کوښښ دې وشي چې غولانځه يې په يخو اوبو ووينځل شي چې شيدې يې غائبې شي.خو که چيرې داختر ورځې زياتې وې او نه لوشل ورته ضرر رسولو؛ نو ودې لوشل شي او شيدي دې صدقه کړل شي .

۳-که چيرې د قرباني څاروی لنګه شوه، نو يا دې د هغې بچی هم ذبح کړل شي او يا دې صدقه کړل شي.

امام موصـلی رحمه الله ليکلي دي: وإن اشـترى هديا فولد عنده ذبح الولد معه ، وإن شـاء تصـدق به ، لأن للولد حكم الأم على ما عرف.الاختيار لتعليل المختار (١ /١٨٧)

۴-مستحب ده، چې څوک کوم مال ذبح کوي باید چاړه یا د ذبحې وسیله ښه تیزه کړي . په حدیث شریف کې راځي .

عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ ». صحيح مسلم (٦ /٧٢)

ژباړه: د شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې دوه خصلتونه دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یاد کړي دي. نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه الله تعالی واجب کړی ده نیکي کول په هر څه کې ، کله چې تاسې وژل کوئ(لکه قصاص یا د بل شي وژل) او کله چې تاسي ذبح کول کوئ ؛ نو په نیکۍ سره ذبح وکړئ او خامخا تیزه دې کړي یو له ستاسې څخه چاړه خپله او باید راحت ورکړي مذبوحې خپلې ته.

۵-چاړه باید د حیوان په مخکې تیزه نه کړای شي او چاړه باید دحیوان د څملولو څخه مخکې تیزه کړل شي او د حیوان د څملولو څخه وروسته چاړه تیره کول مکروه دي او په حدیث کې ورڅخه منع راغلی ده. الاختیار لتعلیل المختار (٥ /١٣)

٦-یو څاروی د بل څاروي په مخکې باید ذبح کول مکروه دي.

۷-د ذبحې پر وخت حیوان له پښې څخه راښکل مکروه دي ؛ باید حیوان په مهربانۍ سره د ذبحې ځای ته راوستل شي او په مهربانۍ سره څملول شي. الجوهرة النیرة (٥ /٢٦٤)

۸-په ذبح کې د مرۍ هډوکې ته چاړه رسول یا د څاروي څخه د ذبح پر وخت سره غوڅول مکروه دي او د ذبحې پر وخت د څاروی او حیوان څټ ماتول مخکې له دې چې یخ شي مکروه دي، ځکه په دې کارونو سره څاروی بې فائدې تعذیبیږي. البحر (٨ /١٩٤)

۹-د څاروي څخه څرمن ویستل مخکې له دې چې هغه یخ شي مکروه دي.

۱۰-دحیوان د ذبحې پر وخت د حیوان مخ قبلې ته اړول مستحب دي او ذبح کوونکی بِسْمِ اللَّهِ وَاَللَّهُ أَكْبَرُ وایې.

## په لاندې څارویو قرباني کیږي :

۱-په هغه څاروي قرباني کیږي چې پیدایشي ښکر، ونه لري او یایې دښکر کمه اندازه ماته شوی وي ؛ په دې شرط چې د بیخه نوي مات شوی. بدائع الصنائع (٥ /٧٦)

۲-په هغه څاروي قرباني کیږي چې خصي وي.

۳- په هغه څاروي قرباني کیږي چې لیونی وي او خوراک کولای شي که چیرې خوراک یې نه شوکولای بیا قرباني ورباندې نه کیږي. الجوهرة النیرة (٥ /٢٩٦)

۴-په هغه څاروي قرباني کیږي چې پیدایشي یې غوږونه واړه وي او یایې پیدایشي لکۍ وړه وي. الجوهرة النیرة (٥ /٢٩٦)

۵-په هغه څاوري قرباني کیږي چې په سترګو کې کوږوالی ولري، یا یې په اوږدو غوږونه څیري شوی وي ، یایې په غوږونو کې سوري وي او یایې ویښته اخیستل شوي وي. رد المحتار (٢٦ /٢٥٣)، بدائع الصنائع (٥ /٧٦)

په لاندې څارویو قرباني نه کیږي:

۱-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې ګډوالی یې واضحه وي .

۲-په هغه څاروي قرباني نه کیږي چې غوږ یې قطع او پری کړل شوی وي او یایې لکۍ قطع شوی وي او یا یې کناتۍ قطع شوی وي.

۳-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې کوډوالی يې واضح وي او د ذبحې ځای ته نشي تللای. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

۴-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې خوار والی يې واضح وي او کمزوری وي.

۵-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې غاښونه ونه لري او خوراك نشي- کولای . که چيرې خوراک کولای شو بيا قربانيورباندې کيږي او دا صحيح قول دی. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

٦- په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې خوراک يي مرداري وي. البحر الرائق (۸ /۲۰۱)

۷-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې غولانزه يې قطع (پرې) شوي وي او بچې ته شيدی نه شي ورکولی او په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې غولانزه يي مکمل وچه شوی وي.[التبيين]

۸-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې پوزه يي قطع(پرې) شوی وي.[الهنديه]

۹-په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې په دواړ سترګو ړنده وي او يا يې يوه سترګه ړنده وي او يايې اکثره سترګه ړنده وي يا له منځه تللی وي.مجمع الأنهر (٤ /۱۷۱)

## د قربانۍ مستحبات:

۱-دقربانۍ غوښې خوراک، ذخيره کول او صدقه کول.

۲-مستحب داده چې دقربانۍ دغوښې صدقه د دريمی برخې څخه کمه نه وي.

۳-که چيرې دقربانۍ څښتن ذبح زده وه، مستحب ده چې دقربانۍ څاروی په خپل لاس ذبح کړي.

۴-که چيرې دقربانۍ د څښتن ذبح کول زده نه وي مستحب ده چې دقربانۍ ځای کې حاضر وي.

## دقربانۍ مکروهات:

۱- دقربانۍ دڅرمن خرڅول مکروه دي،که چيرې دقربانۍ څرمن يي خرڅه کړه په کارده چې قيمت يي صدقه کړي.

۲-قصاب ته په اجوره (مزورۍ)کې دقربانۍ غوښه ياڅرمن ورکول هم مکروه دي؛مګرکه چيرې غوښه يي دصدقې له مخې ورکړه داجواز لري.

۳- دذبح کولو څخه مخکې دقربانۍ دڅاروي څخه دويښتانو اخيستل او دڅاروي دشيدو څخه ګټه پورته کول مکروه دي. په کارده چې شيدې يي او يا اخيستل شوی وړۍ صدقه کړي.

**أقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**